**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## بایډن د غزې د عام‌وژنې پر سهار، په ډېره سپین سترګۍ یهودي دولت ته سفر وکړ او له دوی سره یې خپل پیوستون اعلان کړ!

(ژباړه)

د امریکا ولسمشر جوبایډن د فلسطین د سپېڅلې خاورې د اوسېدونکو پر وړاندې له تر ټولو بې رحمه عام‌وژنې وروسته، ۲۴ ساعتونو څخه کمه موده کې له یهودي دولت څخه لیدنه وکړه او له هغوی سره یې خپل پیوستون اعلان کړ. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ إِلَى جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمِهَادُ]**

**ژباړه:** «*[نو اې رسول الله صلی الله علیه وسلم!] کومو خلکو چې ستا له دعوت څخه انکار کړی دی، هغوی ته ووایه: هغه وخت نږدې دی چې تاسو به مغلوب شئ او د دوزخ لوري ته به په منډه منډه وروستل شئ او دوزخ ډېر بد استوګنځی دی.*» [آل عمران: ۱۲]

د مسلمانانو د وینو په اړه د امریکا او یهودي دولت ګستاخي او سپکاوی حد نه لري؛ د دغې ګستاخي او سپین سترګۍ اصلي سبب پر غزې د تیري پر وړاندې د مسلمانو پوځونو نه راټولېدل او د حکامو بې غوري ده.

اسلامي امت تل ښودلې چې دوی د یهودي دولت پر وړاندې مبارزې او د خپل سر او مال قربانولو ته تیار دي؛ خو حکامو یې دروازې پر مخ تړلې. د اسلامي امت د زامنو، ځوانانو او ښځو تر منځ دا شعار عام دی چې «زموږ لپاره پولې پرانېزئ». دا شعار هغه وخت ښه پلی کېدی شي چې په "پولې پرانېزئ، پوځونه په حرکت راولئ او ټول امت به یې ملاتړ وکړي" بڼه وي.

د مصر د پوځ شمېر ۴٦۵۰۰۰ عسکر دي، ۸۰۰۰۰۰ احتیاطي او په وسله والو ځواکونو کې د خدمت لپاره ۳۵ میلیونه نور وړ کسان لري.

د دوو سپېڅلو جوماتونو (الحرمین) د پوځ شمېر ۴۸۰۰۰۰ او د احتیاطي عسکرو شمېر یې ۱۱۰۰۰۰ دي.

د اردن د پوځ شمېر ۱۱۰۰۰۰ عسکر دي، ۶۰۰۰۰ احتياطي او په وسله والو ځواکونو کې د خدمت لپاره ۱۴۲۰۰۰ ميليونه وړ نور کسان لري.

د لبنان د پوځ شمېر ۷۱۰۰۰ عسکر دی او په وسله والو ځواکونو کې د خدمت لپاره ۱.۲ ميليونه وړ نور کسان لري.

دا په اسلامي خاورو کې وسله وال روزل شوي جنگيالي ځواکونه دي، چې د يهودي دولت شاوخوا گرد پراته دي؛ ټول ۲ مليونه سرتيري کېږي او په څنگ کې يې ۳۷ مليونه نور کسان هم لري چې په وسله والو ځواکونو کې د خدمت جوگه دي او روزنه يې يوازې څو مياشتې نيسي. سره له دې هم غزه په يوازې توگه د ځان دفاع کوي! موږ د سوډان، الجزاير، تونس، ليبيا، ترکيې، پاکستان، الجزاير، مراکش، عراق، اندونيزيا او نورو ډېرو هېوادونو د پوځونو يادونه ونه کړه.

دا پوځونه داسې رهبر ته اړتيا لري چې د عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه په څېر مشري وکړي؛ يو خليفه، د مومنانو قوماندان، (خليفه اميرالمؤمنين) چې د ځمکو د ازادولو لپاره د جهاد اعلان وکړي. د سايکس-پيکو له وېش څخه راوتلو هېوادونه او کوچنيو دولتونو دا ثابته کړه چې د اسلامي خاورو د کمزورۍ کولو او يووالي د مخنيوي له يوې سترې دسيسې پرته بل څه نه دي.

موږ په حزب التحرير کې د رسنيو له ټولو مخلصو شخصيتونو، بانفوذه کسانو او د ټربيونونو له څښتنانو څخه غواړو چې د دغه کړکېچ د هواري لپاره د مسلمانانو عام ذهنيت سم لوري ته واړوي. هغه دا چې د يهودو د گستاخۍ او د امريکا د دسيسو مخه يوازې د مسلمانانو د دښمنانو پر وړاندې د پوځونو په چمتو کولو، د خاينو حکامو په له منځه وړلو او پر ځای يې د يوه مخلص مشر او خليفه په ټاکلو سره ترسره کېدی شي. هغه خليفه چې په ما انزل الله حکم کوي؛ د جهاد اعلان کوي، د امريکا او يهودي دولت سپين سترگي او گستاخي پای ته رسوي او د دوی زړونه د مسلمانانو له ويرې ډکوي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[سَنُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُواْ الرُّعْبَ بِمَا أَشْرَكُواْ بِاللهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَاناً وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَبِئْسَ مَثْوَى الظَّالِمِينَ]**

**ژباړه:** *«هغه وخت ډېر ژر راتلونکی دی چې موږ د حق نه منونکيو په زړونو کې وېره واچوو، ځکه چې هغوی له الله تعالی سره په خدايی کې هغه څه شريک انگېرلي دي چې د هغو پر برخه والي الله تعالی کوم سند نه دی نازل کړی. د هغو وروستی استوگنځي دوزخ دی؛ ډېر بد هغه استوگنځی دی چې ظالمانو ته به ور په برخه شي.»* [آل عمران: ۱۵۱]

انجنير صلاح الدين عضاضه

د حزب التحرير- مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر

۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربيع الثاني ۳مه

۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۱۸مه

د صدور ګڼه: ۰۰۷/ ۱۴۴۵

ژباړن: محمد حامد